PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۲۲

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ۱۰۲۲ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۹۷ گڼه د ۱۳۹۰ ل-دوري ۲۹ مه – د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق جمادي الاول ۱۳ مه د ۲۰۱۱ د اپریل ۱۸ مه

بازداشت رییس دارالمعلمین پکتیکا توسط نیروهای خارجی

نیروهای افغان و خارجی در شرن مرکز ولایت پکتیکا سرپرست ریاست دارالمعلمین، یک معلم و ملازم را با خود برده اند.

دفتر مطبوعاتی قول اردوی ۲۰۳ تندر در پکتیکا دیروز گفت که نیروهای افغان و خارجی، طی عملیات مشترک، سه مظنون را با یک میل کلاشینکوف، یک تفنگچه و سه تفنگ کره بین روسی از یک منزل بازداشت نموده اند.

منبع درمورد افراد بازداشت شده معلومات ص۳

وروستی ناامنی د امنیتي ځواکونو د کمزورتیا زېرنده!

په افغانستان کې په تېرو پنځو ورځو کې د ځانوژنې نهه بریدونه شوي، چې ټولو کې یې مرګ ژوبله اړولې.

یوازې په وروستیو دوو ورځو کې وسلوالو طالبانو په دوو مهمو پوځي مرکزونو کې دننه ځان وژونکي حملې وکړې، چې درنه مرګ ژوبله یې واړوله.

دوی د جمعې په ورځ وتوانېدل چې د کندهار د امنیې قومندانۍ د ننه ځان وژونکی برید وکړي او د دې ولایت د امنیې قومندان خان محمد مجاهد یې د دوو تنو نورو سره وواژه.

همدارنګه یې د شنبې په ورځ د لغمان ولایت په یو پوځي مرکز کې یو ځان وژونکي ځان والوځاوه چې پنځه بهرنۍ او څلور افغان سرتېرې یې ووژل.

د امنیتي چارو کارپوهان وایي، له دې ځرګندېرې چې طالبان پرته له دې چې له ناټو او افغان ځواکونو سره په سختو مخامخ جګړو کې ښکېل شي دا توان لري چې افغان او ناټو ځواکونو ته د داسې چاودنو له کبله درانه تلفات واړوي او دا ډول بریدونه یې زور ورکړی.

دا په داسې حال کې ده، چې دې میاشتې وروسته نړیوال ځواکونه افغان امنیتي ځواکونو ته د دې هېواد د وو نسبتا ارامو سیمو امنیتي چارې ورسپاري.

د فرانسې خبري اژانس د افغان امنیتي کارپوه جنرال هلالالدین هلال له خولې وایي: ((طالبان د مخامخ جګړې توان نه لري، نوله همدې کبله دوی ځان وژونکو بریدونو ته زور ورکړی څو خلکو، افغان حکومت او متحدینو ته یې وښیي چې دوی پوره ځواک لري او کولای شي چې

۳مخ

پرون په کابل ښار کې د پولیسو ترمنځ خونړۍ نښته وشوه

دکابل ښار په یولسمه ناحیه کې دیوې پوستې دقوماندان او ددې پوستې د ټولې د قوماندان ترمنځ نښته کې د ټولې قوماندان ووژل شو او بل تن ټپي شو. دکابل د امنیه قوماندانۍ دجنایي جرمونو د څېړنو مشر محمدظاهر وویل، چې دغه پېښه شاوخوا ۹ بجې پرون سهار دکابل ښار د یوولسمې ناحیې د لومړۍ حصې په نورستان تمځای کې دپولیسو دیادې پوستې د ټولې قوماندان او د پوستې د قوماندان ترمنځ د لفظي شخړې له امله وشوه، چې په پایله کې یې د ټولې قوماندان ووژل شو او د پوستې قوماندان ټپي شوی دی. یوه پولیس، چې نه یې غوښتل نوم یې په ډاګه شي پڑواک ته وویل، چې نښته د پوستې دقوماندان او دهمدې پوستې د ټولې قوماندان ترمنځ رامنځ ته شوه، چې په ترڅ کې یې دواړو پریوبل ډزې وکړې. په سیمه کې یوتن هټیوال حفیظ الله وویل: ((په هټۍ کې وم، چې د تومانچې د ډزو اواز مې ترغوږو شو او وروسته دکلاشینکوف ډزې وشوې.))

هغه وویل، چې نښتې څه باندې ۲۰ دقیقې دوام وموند، چې وروسته دوه ټپیان له دې پوستې څخه د پولیسو په رېنجر کې روغتون ته ولېږدول شول. دافغان روغتون مطبوعاتي مرستیال عبدالمنان وویل، چې یومړی او بل ټپي تن دې روغتون ته راوړل شول. امین زیاته کړه، چې ټپي له لومړنیو مرستو څخه وروسته، ایمرجنسي روغتون ته یووړل شو.

د بهرنیو وژل شویو سرتېرو شمېر ۱۳۰ تنو ته ورسېد

د ناټو په مشري نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د افغانستان په سوېل کې د خپلو درېیو سرتېرو د وژل کېدو خبر ورکړ.

دغه خبر په کابل کې د یادو ځواکونو د مطبوعاتي دفتر له خوا د وري پر ۲۸مه په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ورکړل شوی دی. سرچینې زیاته کړې، چې دغه سرتېري یې وړمه ورځ د افغانستان په سوېل کې په دوو بېلابېلو چاودنو کې وژل شوي دي. ایساف د وژل شویو سرتېرو هویت او د پېښې کره ځای نه دی په ډاګه کړی، خو باید وویل شي، چې په سوېل کې ډېرې امریکایي، کاناډایي او بریتانوي سرتېري مېشت دي. د پڑواک د راپور له مخې، د روان زېردي کال له پیل راهیسې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د وژل شویو بهرنیو سرتېرو شمېر ۱۳۰ تنو ته ورسېد.

به ارزش ۵۶۰ میلیون دالر امریکایی، غصب زمین های دولتی در شهر کابل

بر اساس اسناد بدست آمده، ۲۸۰ جریب زمین دولتی در ساحهٔ رحمن مینهٔ شهرکابل، توسط شرکت ساختمانی اونکس غصب شده و کار اعمار شهرک سازی جریان دارد.

اسناد و شواهدی که توسط ریاست های استملاک، ملکیت ها، طرح و تطبیق پلان شهری شاروالی کابل، ناحیهٔ هشتم و ولسوالی بگرامی به دسترس آژانس خبری پژواک قرار گرفته است، این ساحه که فعلا توسط شرکت اونکس به نمرات رهایشی تبدیل شده است، مطابق سروی شاروالی کابل در سال ۱۳۵۸، ملکیت دولت و ساحهٔ چمنی تثبیت شده است.

به اساس نرخ گیری، قیمت یک بسوه زمین بلند منزل در این ساحه، یکصد هزار دالر تا یکصدو پنجاه هزار دالر امریکایی بوده است.

بر اساس قیمت یاد شده، مجموع ارزش ۲۸۰ جریب زمین در این ساحه، بیش از ۵۶۰ میلیون دالر می شود و در صورتی که شاروالی کابل، این زمین را از طریق داوطلبی به فروش می رساند، این مقدار پول وارد خزانهٔ دولت می شد.

شرکت اونکس طی مکتوبی از ریاست جمهوری درخواست نموده است که در زمین یاد شده، شهرک اعمار می کند.

محمد کریم خلیلی معاون دوم ریاست جمهوری، طی حکم شمارهٔ ۶۲۱ مورخ ۱۳۸۹/۰۸/۰۳ به وزارت امور شهر سازی چنین هدایت داده است: "در تفاهم با ارگان های ذیربط و به رویت قباله دست داشته در مورد اجرای مطلوبهٔ ورقه درخواست، اصولا اقدام به عمل آورده شود".

شرکت اونکس ص۳

پخوانیو کمیسیونونو څه وکړل، چې نوي یې په پې وکړي؟ ۲

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

که د کابل د چاپېریال غمه ونه خوړل شي؟!

د کابل د چاپېریال وضعیت ورځ تر بلې لا پسې خرابېږي، په هوا کې د کاربن کچه زیاتېږي او دمګړۍ دې حد ته رسېدلی، چې د عامې روغتیا وزارت څرګندوي، په کابل ښار کې د ککړې هوا له امله، تنفسي ناروغۍ د تېر کال په پرتله درې چنده زیاتې شوي دي.

دغه وزارت همدا راز ګوابښ کوي که د کابل د ژوند چاپېریال ساتنې مسئله جدي و نه نیول، دولت او نړیواله ټولنه په دې برخه کې کوټلي او وړ ګامونه و انه خلي، کېدای شي، دغه ستونزه نوره هم پراخه او ورسره جوخت د تنفسي ناروغیو کچه هم لا پسې زیات او ګوابښمنه شي.

دولت او نړیوالې ټولنې په تېرو لسو کلونو د کابل ښار کې د ککړې چاپېریال د ستونزې د راقابو کولو په موخه هېڅ کاري او اغېزمن ګام نه دي ترسره کړي، په دې برخه کې د دولت یوازینی اقدام د پنجشنبې ورځې رخصتي ده، چې ډېر خلک د دولت دغه اقدام خدایي نه بلکې یو سیاسي اکټ بولي، څو په دې توګه، خلک دې ته چمتو کړي، چې په اوونۍ کې له دوو ورځو رخصتیو سره ځانونه عادت کړي. نور موږ او تاسې ټول وینو، چې په ښار کې هماغه دودجن موټرونه اوس هم ګرځي، په ښار کې د موټرو بیروبار ورځ تر بلې لا پسې زیاتېږي، په ښار کې د شنو سیمو د رامنځ ته کولو په برخه کې، چې د ژوند چاپېریال ساتنې په برخه کې کې خورا مهم رول لري، هېڅ عملي او کاري اقدام نه ترسترګو کېږي، همدا راز نورې اړینې هڅې، چې باید په دې برخه کې تر لاس لاندې نیول شوې وای، د دولت په اوسنیو ورځینو کړنو او پلانونو کې ځای نه لري.

په هر حال، د کابل د چاپېریال وضعیت د ډېر خوړین او ناوړینجن دی، بېړنۍ اقدام او اغېزمنې کړنلارې ته اړتیا لري، دولت او نړیوال ټولنه باید په دې اړه، کاري او وړ اقدام ترسره کړي، هغه پلانونه او کړنلارې چې په دې برخه کې اغېزمن دي، باید په عمل کې پلي شي، نه دا چې، په خوله ویل کېږي، خو په عمل کې صفر وي. د کابل د هوا ککړوالی د کابلیانو یوه اساسي ستونزه ده، چې په اواړ کې یې د دولت مسوولیت تر ټولو درونداو ستر دی، خو دا چې دولت په دې برخه کې سم غوږ نه ګروي، نو دا د دې ښودنه کوي، چې دولت له دې جدي ستونزې سره، چې هره ورځ د زرګونو انسانانو ژوند ګوابښوي، هم سرسري چلند کوي او بس.

پخوانیو کمېسیونونو څه وکړل، چې نوي به یې وکړي؟

نسیم نړیال

په افغانستان کې د روانو تاوتریخوالو د له منځه وړلو په موخه دا څویم ځل دی، چې له پاکستان سره دوه اړخیز او یو اړخیز کمېسیونونه جوړېږي. داسې ویل کېږي، چې افغان وسلوال مخالفان تر ډېره په پاکستان او ایران کې روزل کېږي او بیا افغانستان ته د جګړې لپاره استول کېږي. په همدې تړاو افغان دولت او پاکستاني لوړي څو څو واړې د وسلوالو مخالفانو د له منځه وړلو او د یو بل په خاوره کې د نه فعالیت په موخه پلاوي، کمېسیونونه او جرګه ګې جوړې کړي او او په دواړو هېوادونو کې یې د سولې د ټینګښت په موخه اقدامات ترسره کړي دي، خو له بده مرغه تر اوسه د دې هڅو کومه مثبته پایله نه ده ترلاسه شوې، بلکې لا هم وضعیت خوړین شوی او ځپل شوی دي. له همدې ټولو سره سره دا دی یو ځل بیا افغان او پاکستاني چارواکي پر دې سره سلاو شول، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ له وسلوالو مخالفانو سره د خبرو اترو په موخه یو ګډ کمېسیون جوړ شي.. تر دې پخوا هم د دواړو خواوو ترمنځ یو ګډ کمېسیون موجود و، خو دا کمېسیون به له هغه سره توپیر لري او د دواړو هېوادونو جګپوړي پوځي او ملکي چارواکي او د افغانستان د سولې د عالي شورا مشر برهان الدین رباني به په کې غړیتوب ولري.

د افغانستان ولسمشر حامد کرزي د پاکستان له صدرعظم سید یوسف رضا ګیلاني سره په یوه ګډه خبري غونډه کې وویل: «باغلي ګیلاني د خپل حکومت له لوري یو واضح او څرګند پیغام راوړی و او هغه یې د دواړو خواوو په رسمي خبرو کې ولوست.

کرزي زیاته کړه چې د سولې د خبرو اترو د پرمختګ په صورت کې به امریکا هم د درېمګړي یا په درې اړخیزو غونډو کې هم ګډون ولري.

ولسمشر کرزي په وینا کې چېرې له وسلوالو مخالفانو سره د سولې ته د رسېدو په موخه په اساسي قانون کې د تعدیل او بدلونونو اړتیا وي، نو دوی د دغه وړاندیز هرکلی کوي. ښاغلي ګیلاني د دواړو خواوو ترمنځ د ګډ کمېسیون په اړه وویل: «دا ګډ کمېسیون به د افغانستان او پاکستان ترمنځ یونوی باب پرانیزي او په سیمه کې به له سولې او ثبات سره مرسته وکړي. ده همداراز وویل: «موږ سره ورونه یو. موږ ګاونډیان یو. خلک باید نور ونه ځورول شي.» همداشان بل لور ته د افغانستان جګپوړي چارواکي په ښکاره او پټه پاکستان په تېره بیا د دغه هېواد استخباراتي اداره د افغانستان په کورنیو چارو کې په لاسوهنې تورنوي او وایي چې د طالبانو مشران یې په خپله خاوره کې ساتلي دي. سره له دې چې د پاکستان صدراعظم ولسمشر کرزي ته ډاډ ورکوي چې په افغانستان کې به د سولې په راوستلو کې صادقانه مرسته کوي، خو ځینې ځپرونکي بیا هم د پاکستان پر نیت شک کوي او وایي، پاکستان د امریکا ترفشار لاندې دی او په وروستیو کې یې اړیکې خړپړې شوې دي، نو ممکن دا هېواد په دې ډول هڅه وکړي چې له امریکا سره خپلې اړیکې ښې کړي او بیا هم له امریکا میلیاردونه ډالر واخلي.

په همدې حال کې دا هم ویل کېږي چې د پاکستان د استخباراتو رییس شجاع پاشا ته په واشنګټن کې په زغرده ویل شوي چې امریکا نه یوازې دا چې د پاکستان پر خاوره د بې پیلوټو الوتکو حملې نه کموي، بلکې ممکن نورې یې هم زیاتې کړي او د هغو ساحه له قبایلي سیمو ورهاخوا د پاکستان ښارونو ته هم وغځوي.

که چېرې پاملرنه وشي، نو دا وړ کمېسیونونه بیا هم هېڅ نه شي کولی، هسې د خلکو د غولولو لپاره به یو سمبولیک نوم او یو

۳مخ

په بیس بال لوبه کې افغانستان نیپال ته ماتې ورکړه

د سوېلي اسیا هېوادونو د بیس بال سیالیو په لړ کې پرون افغانستان نیپال ته ماتې ورکړه.

د افغانستان د اولمپیک کمیټې ویاند مجیب الرحمن رحماني د وري پر ۲۸ مه وویل، چې د یادو شویو سیالیو په لړ کې وړمه ورځ افغانستان خپله درېیمه لوبه له نیپال سره وکړه.

هغه زیاته کړه، چې ددې سیالۍ په لومړي میدان کې د دواړو هېوادونو نومړي برابرې وې، خو په دویم میدان کې افغان لوبغاړو لوبه وکړه.

د رحماني په وینا، د دویم میدان په پای کې د افغانستان لوبغاړو ۱۹ او د نیپال ۱۱ نومړي ترلاسه کړې وې، چې په دې ډول افغانستان نیپال ته د اتو نومرو په توپیر سره ماتې ورکړه.

نومورې وایي، چې د سوېلي اسیا د بیس بال په سیالیو کې د ګډون په موخه دافغانستان دوولس کسیزه لوبډله پاکستان ته تللې ده. د پڑواک د راپور له مخې، له دې مخکې په دې سیالیو کې، چې د سوېلي اسیا اتو هېوادونو لوبډلې په کې برخه اخیستې، پاکستان او سریلانکا افغانستان ته ماتې ورکړې وه.

پخوانیو کمپسیونونو څه ...

سمبولیک کمپسیون وي او یوازې خپلې ګټې به مخ ته وړي، نو ښایي د سولې په برخه کې هېڅ هم ونه شي کړای، ځکه له پاکستان سره د نژدې اتو کلونو په بهیر کې څو واړې جرګې، کمپسیونونه او نور بېل بېل پلاوي جوړ او وټاکل شول او پاکستان هم د هره یوه په جوړېدو دا ویل، چې په افغانستان کې به د سولې لپاره هڅې کوي، خو تر اوسه یې هېڅ نتیجه نه ده ورکړې، نو هغه متل دی، چې وایي: (ازمویل شوی نه ازمویل کېږي) خو افغان دولت بیا هم دا تېروتنه کوي. که چېرې پاکستان په رښتیا سره غوښتلی او یا په رښتیا وغواړي، چې په دې هېواد کې سوله راشي، نو دا کار په ډېر لږ وخت کې ترسره کولی شي، خو پاکستان له سره نه غواړي، چې په دې هېواد کې امن راشي او دا ځکه چې که دا هېواد امن شي، د دوی ګټې زیانمنېږي. په دې توګه ترڅو چې پاکستان له زړه نه او په رښتونې توګه عمل ونه کړي او د سولې د پروسې ملاتړ ونه کړي، په دې هېواد کې سوله نه شي ټینګېدلی او په دې برخه کې د جرګو او کمپسیونونو جوړول هم کومه ګټه نه لري.

وروستی ناامنی دامنیتي ...

د دوی مهم خلک او مهم ځایونه په نښه کړي.))

په کابل کې د ناټو یو ویاند جان ډورین د فرانسې خبري اژانس ته ویلي، د طالبانو له خوا مشخص بریدونه یوه له هغو لارو څخه ده چې دوی غواړي له لاسه وتلې سیمې بېرته ونیسي، په ځانګړې توګه د افغانستان په جنوب کې. ښاغلی ډورین وایي: ((په ۲۰۱۰ کال کې مخالفو وسلوالو ډېرې سیمې له لاسه ورکړي د کومو د بېرته ترلاسه کولو لپاره چې دوی هلې ځلې کوي او د دې لپاره له دوی سره یوه لاره هم همدا ترورونه دي.))

خو ولې افغان او ناټو ځواکونه د دا ډول بریدونو مخه نه شي نیولی؟

فقیر محمد فقیر چې یو مهال د افغانستان د کورنیو چارو وزیر و ازادي راډیو ته وایي د ځان وژونکو مخه نیول ګران کار دی، خو که امنیتي ځواکونه په خپلو کې په یوه بنه همغږې کې کار وکړي او ځینې ستونزې او اختلافونه چې اوس د افغان امنیتي ځواکونو په لیکو کې شته هوار شي، تر یوحده کمېدلی شي.

په افغانستان کې هر کال د هوا په تودېدو سره وسلوالو طالبان خپلو بریدونو ته زور ورکوي. د ناټو چارواکي وایي، تېر کال یې د وسلوالو طالبانو پر ضد په ډېرو سیمو کې پرمختګونه کړي او دوی یې له ځینو سیمو په شا کړي دي، خو بناغلی فقیر او نور کارپوهان وایي دا پرمختګونه یوازې په جنوب کې شوي او په ختیځ کې د پرمختګونو پر ځای ناټو ځینې سیمې طالبانو ته ور پرېښي دي.

دوی د بیلګې په توګه د نورستان یادونه کوي چې نړیوال ځواکونه تر ډېره شا شوي او وسلوالو اوس دغلته ډېرې سیمې له افغان ځواکونو نیولي.

دوی سپارښتنه کوي، چې که ناټو غواړي دا ډول بریدونه کم شي نو پکار ده چې د افغانستان په ختیځ کې هم د وسلوالو پر ضد اقدامات وکړي او د هغوی هغه خوندي ځایونه چې اوس یې لري له منځه یوسي.

بازداشت رییس دارالمعلمین...

ارایه نکرد، اما می گوید، تحقیقات از نزد آنها جریان دارد.

احسان الله رییس معارف پکتیکا می گوید که نیروهای خارجی رییس دارالمعلمین را که جدیدا آغاز به کار کرده بود، یک معلم لیسهٔ علی آباد و یک ملازم را با خود برده اند.

نامبرده گفت که موضوع افراد بازداشت شده را در کابل، با مقام های وزارت معارف در میان گذاشته و غرض رهایی آنها، تلاش را به خرج داده اند.

حاجی دین محمد پدرکلان سیدعباس ایوبی سرپرست دارالمعلمین پکتیکا گفت که منزلش در ۳۰۰متری مقام ولایت موقعیت دارد و نیروهای خارجی، بدون حضور داشت نیروهای افغانی به منزل موصوف هجوم برده اند.

نامبرده می گوید: "نیروهای خارجی اتاق های بستهٔ منزل را تلاشی نموده، صندوق ها را شکستانده، دست مردان را بسته کردند، خانمها را از منزل خارج نموده و مقدار زیورات و پول آنها نیز، مفقود شده است".

موصوف افزود که نیروهای خارجی، سیدعباس نواسهٔ موصوف و دومهمان را با خود برده که با هیچ گروه سیاسی و مسلح ارتباط ندارند.

حاجی علی جان عضو شورای اصلاحی و یکتن از متنفذان قومی شرن گفت که بعد از تلاش های زیاد دارالمعلمین را درشرن افتتاح نمود، اما از آغاز آن چند روز نگذشته است که سرپرست ریاست آن از سوی نیروهای خارجی بازداشت گردید.

نامبرده گفت که همچو کارکردها روند تعلیم و تربیه را صدمه می رساند و از دولت مرکزی خواست، تا افراد دستگیرشده راهرچه عاجلتر رها سازند.

این درحالی است که دارالمعلمین یادشده، به اساس خواست های سران قومی و شاگردان دو هفته قبل ساخته شد.

به ارزش ۵۶۰ میلیون دالر...

ادعا می کند که آنها این زمین را از افرادی خریداری نموده اند که قبالهٔ شرعی با خود دارند.

اما بر اساس گفته های ریاست ناحیهٔ هشتم شاروالی کابل، این زمین تا حمل ۱۳۸۹ ملکیت دولت بوده و از سوی دیگر، قرار بررسی ریاست طرح و ساختمان شاروالی کابل در سال ۱۳۵۸، زمینی به این نام ها وجود ندارد و آنها قبالهٔ غیرقانونی ترتیب نموده اند.

یک منبع ریاست استملاک شاروالی کابل که نخواست اسمش ذکر شود، به پژواک گفت: "طبق اصول باید هر شهرکی که ایجاد می شود، شاروالی کابل، باید از ملکیت آن تصدیق نماید، درحالی که شاروالی در این مورد آگاهی ندارد".

منبع افزود که شهرک اونکس با آنها در این مورد هیچ تماسی نگرفته و می خواهد، زمین دولتی را به شکل غیرقانونی به شهرک تبدیل کند.

کار ساخت این شهرک و توزیع نمرات به مردم از اوایل ماه حمل سال روان، عملا آغاز شده است.

این درحالی است که ریاست ناحیهٔ هشتم شاروالی کابل با نماینده گان ادارات ذیربط امنیتی به خاطر دولتی بودن این زمین، عملیاتی را در ۲۰ حمل سال ۱۳۸۹ به راه انداختند و فامیل هایی را که در این محل خیمه زده بودند، دور ساختند.

مسوولان ناحیهٔ هشتم گفته بودند که آنها این زمین را از وجود خیمه نشینان به هدفی تخلیه کردند که مبادا در آینده زمین دولتی، از سوی آنها غصب شود.

بنابر معلومات ریاست استملاک شاروالی کابل، این زمین در پلان تفصیلی مربوط مکروریان یازدهم پروژهٔ رحمن مینه بوده که در پلان املاکی به نام ساحهٔ چمنی مربوط دولت ثبت و قید است.

در یک مکتوب شماره ۲۷۷۶مورخ ۱۳۸۵/۱۰/۰۳ ریاست استملاک شاروالی کابل آمده است: "این ساحه در پلان املاکی به نام ساحهٔ چمنی مربوط دولت، ثبت و قید است و زمین دولتی بدون استملاک، ملکیت شاروالی می باشد".

همچنان در یک مکتوب شماره (۵۴۵) مورخ ۱۳۸۴/۰۷/۰۶ ریاست ناحیهٔ هشتم تذکر رفته است: "طبق پلان تفصیلی دست داشته، ساحهٔ بلند منزل به رویت پلان املاکی ساحهٔ چمنی ملکیت دولت ارایه شده است".

طبق اسناد رسیده به پژواک، بر علاوهٔ اینکه این ۲۸۰جریب زمین توسط شرکت ساختمانی اونکس غصب شده، تمام فرمان هایی که در مورد اجرای قباله و طی مراحل بررسی ملکیت وجود دارد، توسط این شرکت نیز، نقض گردیده است.

در حالی که اطلاعیهٔ نمبر ۲۴۸۲ بر ۲۳۵۷ مورخ ۳ قوس ۱۳۸۹ از سوی شاروالی کابل به ریاست عمومی محاکم ولایت کابل و ادارات ذیربط ارسال شده است و کاپی آن نیز، به دسترس پژواک قرار گرفته است. در اطلاعیه آمده است: "تقسیم به حصص ساحات زمین، مندرج فقرهٔ (۱) این ماده و سایر ساحات زمین یا خانه هایی که تحت پلان های شهری (پلان های تفصیلی منظور شده) قرار می گیرد، به منظور هبه یا خرید و فروش آن جواز ندارد. اما محمد کریم خلیلی معاون دوم رییس جمهور خلاف مصوبه، هیأت مختلط مجلسین شورای ملی که در شماره (۱۰۱۰)جریدهٔ رسمی نشر شده، اجرای قباله و امر شهرک را به شرکت اونکس اهدا می کند. اطلاعیه حاکی است: "با وجود موجودیت چنین حکم صریح و روشن قانون، هنوز هم زمین و خانه های ساحاتی که پلان تفصیلی منظور شده دارد، به قطعات خورد و کوچک تقسیم و خرید و فروش می شود، از اینرو چگونگی موضوع را بدینوسیله خدمت شما اطلاع نموده خواهشمندیم به عموم محاکم شهری ولایتی مربوط شهر و ولایت کابل هدایت دهید، تا حین اجرات یومی تعدیل متذکره را در نظر داشته طبق آن اجرات لازم قانونی به عمل آورند".

میرویس عزیزی رییس عمومی بنیاد و بانک عزیزی که بخش مالی اونکس را نیز اداره می کند به پژواک گفت که شاروالی کابل، قبلا برای زمین های رحمن مینه، پلان های تفصیلی را که توسط شرکت های راه بُست و ارمان شهر ترتیب داده بود، خریداری کرده است. وی پذیرفت که پلان تفصیلی ساحهٔ مکروریان یازدهم رحمن مینه را از ساحهٔ تجارتی به ساحهٔ رهایشی در پلان خودش تبدیل کرده است. به اساس قوانین نافذهٔ افغانستان تعدیل پلان های تفصیلی از صلاحیت رییس جمهور و شورای وزیران است که شرکت و حتا شاروالی ها و وزارت شهر سازی نیز، صلاحیت تعدیل آنرا ندارد.

حاجی محمد ظاهر، وسوال بگرامی نیز تایید می کند که کار شهرک اونکس در مربوطات ولسوالی بگرامی و ناحیهٔ هشتم، بدون اطلاع به ولسوالی آغاز گردیده است.

وی می گوید، در دیداری که مسوولان ولسوالی بگرامی با مقام های امنیتی از ساحات این ولسوالی داشتند، از موجودیت همچو شهرک رهایشی با خبرشدند، در حالی که املاک از منطقهٔ سنگ نوشته الی پلچرخی مربوط ولسوالی بگرامی و مدیریت املاک بگرامی می باشد.

با وجودیکه پژواک اجازهٔ مصاحبه با مدیر املاک ولسوالی بگرامی را از ریاست نشرات وزارت زراعت و مالداری در مورد بررسی این ۲۸۰ جریب زمین دولتی دریافت نموده، اما مدیر املاک حاضر به ارایهٔ پاسخ نگردید.

در همین حال یک منبع مدیریت املاک بگرامی که از گرفتن نامش خودداری می کرد، گفت که آنها از اعمار شهرک اونکس هیچ اطلاع ندارند.

وی در پاسخ به سوالی مبنی بر اینکه آیا قبلا از ویزه شدن شهرک با مدیریت املاک بگرامی تماس گرفته شده؟ گفت " معلوم نیست که شهرک؛ زمین کی را خریده است".

وسوال بگرامی می گوید که آنها در این محلات بلدوزرها، کانتینرها و افراد مسلح کمپنی های شخصی را مشاهده کرده اند که زمین های دولتی را غصب نموده اند.

وی در مورد ایجاد همچو شهرک ها و آغاز کار در محلات مختلف این ولسوالی، از مقام های امنیتی خواستار معلومات شده است.

حاجی خلیل خدران یکی از سهمداران شرکت ساختمانی اونکس بعد از بهانه تراشی های زیاد که حاضر به صحبت نمی شد، بالاخره در تماس تیلفونی به پژواک مدعی شد که آنها از ۲۸۰جریب زمین قبالهٔ شرعی در دست دارند. اماموصوف از دادن جزییات بیشتر در مورد خودداری کرد. با این حال، مدیریت ساختمان ریاست طرح و تطبیق شاروالی کابل، وزارت امور شهرسازی را متهم به مداخلهٔ وظیفه یی در کار شاروالی کرده می گوید که شاروالی کابل می تواند، به شهرک هایی که در کابل ایجاد می گردد، اجازه بدهد، اما وزارت امور شهرسازی بیشتر شهرک ها را به شکل خودسرانه و بدون اینکه به شاروالی مراجعه شود، ویزه نموده است. اما انجنیر امیرالدین سالک معین امور ساختمانی وزارت امور شهرسازی می گوید، زمانی که اونکس به وزارت جهت ایجاد شهرک مراجعه کرده است، وزارت امور شهر سازی به شاروالی مکتوب رسمی فرستاده است، تا در مورد ملکیت معلومات ارایه گردد. سالک ادعا می کند که وزارت شهر سازی، بعد از آنکه سند تصدیق ملکیت شهرک اونکس را از سوی شاروالی دریافت کرد، اجازهٔ کار ساخت شهرک را داده است. وی افزود که تثبیت ملکیت دولت مسوولیت شاروالی کابل بوده و تنها وزارت امور شهر سازی پلان آنرا بررسی می کند.

معین امور ساختمانی وزارت امور شهرسازی می گوید که بعد از بررسی اسناد، ملکیت و تصدیق شاروالی کابل این وزارت شهرک را اجازه داده است.

در همین حال، داکتر سلطان حسین احصاری سرپرست وزارت امور شهرسازی نیز، پذیرفت که بعد از تکمیل اسناد ملکیت شهرک اونکس ویزه شده است.

وی می گوید که اسناد ملکیت شهرک توسط شاروالی کابل بررسی شده است.

اما ریاست های استملاک و طرح و تطبیق شاروالی کابل که مسوولیت بررسی ملکیت هارا به عهده دارد می گویند که وزارت شهر سازی تا حال در این مورد به آنها هیچ مکتوبی ارسال نکرده است. بر اساس مکتوب ۶۱عبر۲۵ مورخ ۱۷حمل سال جاری، مدیریت عمومی انجنیری ریاست ناحیهٔ هشتم شاروالی که به ریاست دفتر شاروالی کابل ارسال شده است نیز، در مورد ایجاد شهرک اونکس اظهار بی خبری کرده و در مورد طالب هدایت شده است. در این مکتوب چنین نگاشته شده است: "به تاریخ ۱۰ حمل سال جاری در ساحهٔ بین قسمت های (E) و توسعوی پروژهٔ رحمن مینه شهرک اونکس از طرف معین، صاحبان وزارت های محترم شهرسازی ومسکن، اطلاعات و فرهنگ رسما افتتاح گردیده که به تاسی از هدایت شفاهی محترمان معین صاحبان خدمات شهری، پلان مالی شاروالی کابل، اینجانب رییس ناحیهٔ هشتم نیز، حین افتتاح شهرک اشتراک نموده بود".

در مکتوب آمده است: "اکنون یک سلسله تحرکات مقدماتی به خاطر کار اعمار شهرک در ساحه به مشاهده می رسد، چون ریاست ناحیهٔ هشتم از طی مراحل قانونی و پروتوکول منعقده و نقشه های شهرک متذکره از قبل در جریان قرار نداشته که مکلفیت ما در قبال آن، چه خواهد بود، بدین ملحوظ موضوع فوقاً به مقام محترم گزارش تقدیم و در مورد طالب هدایت می باشیم".

این مکتوب توسط دیپلوم انجنیر منیراحمد رییس ناحیهٔ هشتم امضا و در مدیریت تحریرات و ارتباط شاروالی کابل نیز، ثبت شده است.

انجنیر سید جواد، یکی از انجنیران مدیریت انجنیری ناحیهٔ هشتم شاروالی کابل به پژواک گفت: "شرکت اونکس تا کنون کدام سند رسمی را به شاروالی کابل ارایه نکرده است". به گفتهٔ موصوف، باید این شرکت پلان و نقشهٔ شان را رسماً به ناحیهٔ مربوط ارسال می کرد، تا مدیریت انجنیری قبالهٔ ساحه یی را که به وزارت پیشکش نموده است، تثبیت می نمود.

انجنیر جواد خاطر نشان ساخت که ریاست ناحیهٔ هشتم طالب هدایت در مورد شده است. شرکت اونکس با ایجاد رعب و وحشت بالای کارمندان دولت می خواهد، تمام کارهای غیر قانونی را که انجام داده است، پنهان نماید.

تعدادی از کارمندان ادارات شاروالی کابل، وزارت امور شهرسازی، ناحیهٔ هشتم شهر کابل و ولسوالی بگرامی از ترس منفکی و از دست دادن حیات شان در مورد از دادن جزییات ابا ورزیدند.

یکتن از کارمندان ریاست ناحیهٔ هشتم شهر کابل به پژواک گفت: "امی حالی یک تعداد از کارمندان دولت را اونکس معاش می دهد، تا کسانی که علیه اونکس گپ می زنند؛ شناسایی نمایند".

وی افزود که در ناحیه و ولسوالی بگرامی، تعداد زیادی از کارمندان توسط این شرکت خریداری شده اند.

نوې ټاکل شوې ولسي جرګې ته د ولس غږ

ع. رحمن زلال

په افغانستان کې درې لسیزې جګړې افغان ولس ته په لویه کچه ځاني او مالي زیانونه اړولي او په هېڅ کور، کلي کې داسې څوک نه دي پاته شوي، چې د دې جګړې په اور کې نه وي سوځېدلی، همدا ولس تپه جګړه وه، چې ډېر افغانان يې د خپل کور، کلي او وطن پرېښودو ته اړ او پر پردیو ملکونو يې خواره واره کړل. هلته هم په ځانګړې توګه بیا په ګاونډیو هېوادونو کې آن د انسان په نظر هم نه ورته کتل کېدل. کوم چې پر مینه او وطن پاته وو مرګ، چور، تاراج، وهل او ټکول، لوړې، خواري او بدبختۍ يې وزغملې. دې ځورېدلي ولس دا واړه ناخوالې په دې تمه وزغملې، چې یو وخت به د دې ازلي بدبخته ولس د ژوندانه پر شفق، د یو بسیا ژوندانه وړانګې بیا راښکاره شي.

دا پېښه هم وشوه، د ولس د امیدونو غوټیو سپرېدو ته بیا ځان جوړ کړ، په (۱۳۸۲) کال کې لویه جرګه او اساسي قانون جوړ شو.

ولس د یو مټي او پیوستون له ولولو او امیدونو څخه په ډکو زړونو د ټولټاکنو په لور لاړ، ولسمشر او ولسي جرګه وټاکل شوه، ولسونو د کور وراني جګړې د ورانیو د بیارغاونې لپاره له یوه نوي هوس او خوښیو سره مل مټې راپورته کړې، خو له لږ تم نه وروسته دا واړه امیدونه، هوسونه او خوشحالۍ بیا د جګړې په لمبو کې راښکېل او پر وطن باندې د جګړې لمبې بیا راخپرې شوې. د ولس پیوستون او یو مټۍ خپل ځای بېرته د افغان ولس ژبنیو، سیمه ییزو او توکمیزو ټوټه، ټوټه کېدو ته ورپرېښود.

افغان ولس د ولسي جرګې له تیرې دورې څخه په دې تمه چې له دې بیا راژوندي شوي ناتار څخه خلاصون ورکړي دا واړه ناخوالې په خلاصه ټنډه ومنلې، خو په خواشینۍ سره به ووایو، چې هغې جرګې نه یوازې دې د غم پر ټغر ناست ولس ته له هغه ناتاره خلاصون ورنه کړای شوی، بلکې په خپله هم هغه ناتار ته ولاړ او د ولس هیلې او امیدونه یو وار بیا له خاورو سره خاورې شول.

په داسې حال کې، چې ولس له بهر څخه په تپلې جګړه کې هره ورځ خپل په لسګونو بچیان قرباني ورکوي، په خپل منځ کې له شماره په وتلو ډلو ټپلو باندې وېشل شوي او د خپلمنځیو دښمنیو او نفاق په اور کې سوځېږي.

په هېواد کې بیکاري، د امنیت نشتوالی، اداري فساد او د زورواکو برلاسي هره ورځ تر بلې د پراخو شونتیاوو په درلودلو سره د ولس د شارګ وینه زبېښي. له یوه پلوه د نړیوال تروریزم تر ګوزارونو لاندې، له بل پلوه د نشه یي توکو توره ټاپه بیا هم د همدې ولس پر تندي لګېدلې ده.

څرنګه چې د دې ټولو ناخوالو، دربدریو، ورانیو او مرګونو له منځه وړنې او بېرته دې ولس ته د یو بسیا او باعزته ژوندانه د بیارا ګرځونې او جوړښت یوازېنې مرجع او اساسي محور ولسي جرګه او یا په بل عبارت د ولس په درد درد دردمن او هوډمنو استازو ټاټوبی دی او ولس هم د خپلو دردونو د درملپاره ولسي جرګه د یوازېنۍ مرجع په توګه پېژندلې ده، ځکه يې د ټولو ستونزو سره د دښمن د ټولو ګوابنو سره، د مرګ، تاراج او د کور کلي ورانېده ومنل، خو د ولسي جرګې د شپاړسمې دورې د استازو د ټاکلو لپاره په ډلو ډلو د ټولټاکنو صندوقونو ته د رایې ورکولو لپاره يې ځانونه ورسول او د یو لړ هیلو او امیدونو سره مل يې ولسي جرګې ته خپل استازي وټاکل.

ولس اوس له هغه متل سره سم د خپلو ټاکلو استازو کړنې ځاري، چې وایي، ((چې پر مور وه، مور وکړه اوس نو وار د خېښې دی، چې به څه راسره وکا)).

رښتیاني خبره هم همدا ده، چې ولس د خپل نیم ژوانده ژوندانه د بیارغونې واک په ولسي جرګه کې خپلو ټاکلو استازو ته ورکړ اوس وار د همدې استازو دی، چې د ولس دې غوښتنې ته به پرېکنده او ټاکونکی ځواب ورکړای شي که څنګه؟

هو! ولس اوس ټوټه، ټوټه او د نفاق په اور کې سوځېږي، امنیت نه لري، دوا، دارو ډاکټر او په هېواد کې یوه ژغورونکې اداره نه لري، کار او روزګار پر وطن نشته، کور کلي پټې او د اوبو لګولو واړه چارې ورانې شوې دي. مرګ، ژوبله، لوږه، د خپل له خوا رټنه، د پردو له خوا سرټکونه دا واړه اوس د دې ولس ته ور رسېدلې برخه ده. روغتون، ښوونځي او مدرسې سوځول کېږي.

ډېر به لرې نه ځو، دا تر خپلو ستر ګو لاندې د کابل ښار پر واټونو به د دربدره نهه کلن او لس کلن ماشومان وګورو، چې د پلاره له نازه او د مور له محبته، له زده کړې او روزنې څخه بې برخې د ژمي سړو او د دوبي ګرمیو کباب کړي دي، خو دوی خپلې کونډې مور او یا ناروغ بوډا پلار ته د بوې ګولې ډوډۍ پیدا کولو په تمه دا واړه منلي دي. که د پولي تخنیک له پوهنتونه لږ ورتېر شو، نو و به وینو چې په سلګونو هغه خلک چې په کلیو او باندو کې به کسب او کرونده ورباندې جوړه وي، د جګړې له سره انګار سره راتښتېدلي او هلته د ژوندانه له ټولو لومړنیو اړتیاوو څخه بې برخې او بېنوا په خیمو کې پراته دي.

اوس پوښتنه دا ده، چې د دا واړه ناخوالو سمبښت، د داوړه دردونو درمل او د دا وړ زخمونو ملهم او پټي د چا پر اوږو پراته او د چا پر غاړه دي.

هو! ښاغلیه، د ولسي جرګې نوی د ولس له خوا ټاکل شوی استازیه! دا واړه جوړښتونه ستا پر اوږو پراته او د دا وړ زخمونو ملهم او پټۍ ستا پر غاړه او ستا دنده ده.

مور ته دا واړه ناخوالې ولې او له کومه را پېښې او لاملونه يې څه دي؟

• د پر دیو د غرض او د ښمنیو ډکو لاسوهنو ته مو په خپل مابین کې ځای ورکړی دی.

• په خپل مابین کې مو پر سیمو، ژبو، قومونو او مذهبونو باندې ځان سره بېل او ټوټه ټوټه کړی دی؟

• خپل ځاني ګټې مو د وطن او ولس له ګټو نه لومړنۍ او اړینې ګڼلې دي.

• له یوه سالم او د وطن او ولس په ګټه پیوستون او اتحاد څخه په تېښته کې یو.

• پر وطن او ولس باندې زړه خوږۍ بلکل را په کې مړ شوی دی.

همدا پورتني لاملونه دي، چې مور يې د دې بدبختۍ تور ګودال ته ورغورځولي یو، ځکه نو ښاغلیه! ولسي جرګې ته ټاکل شوی استازیه! بیا هم د همدې کړېدلي ولس او ویرانه وطن له خوا تا ته خطاب دی. که ته له همدې پورتنیو شیطاني طلسماتو څخه ځان وژغورې ځرګنده خبره ده، چې ستا د همدې پنځه کلن استازیتوب په دوره کې به د دې بدبخته ولس ډېر دردونه درمل او ډېر زخمونه ملهم او پټۍ شي. او که هسې و نه شي، نو ((وا به جان این ملت)).

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه يې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل:– ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل:– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل:– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com